د مقالی لیکونکې: پول رابرت کریګ (paul craig roberts)

ژباړونکي : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».

# واشنګټن نړی د جنګ په لوري بيايي

Washington moves the world closer to war

د جنوری د میاشتي له یولسمه څخه وروسته ما د خپل ویب سایت په یو ستن«ستون» کي دواشنګټن د یوبل جګړی (http://www.paulcraigroberts.org/2012/01/11 دکار اجندا ترسرلیک لاندی اوهم دجنوری په څوارلسم نیټه کی په همدی ویب سایت کی می دجګړی د پیل دتیار سی خبرونه هم خپورکړل ، اوهمدارنګه د ډیرو تاییدی خبرونو څخه داسي ښکاری چي واشنګټن غواړی نړی یو ډیر خطرناک او تباه کونکي جګړی خواته بوځی اوداځکه چی د اوباما درژیم دپروپاګند وزارت اودامریکی نور اجیر ټولنیز رسنی اومطبوعات په ډیر جدی بنی سره د خپل پروپاګند لمن ددی داستان په خپرولو سره غوړولی چي اوباما ، د پنتا ګون مشر پنیتا اود امریکی نور لوړپوړی چارواکی اسرایل ته جدی ګواښ ورکړی چي پرایران باندی یرغل ونکړی .

هغه څوک لکه ما چی د امریکي دسیا ست او پالیسی سره بلدتیا ولری په دی پوهیږي ، چي ددی قصی معنی څه دی زما تشخیص له دی رنګ راپوررونو څخه هغه د سوی ورورراودګید ړ وروږ قصی ته پاتی کیږی کوم چي سوی (خرګوش) وروږ ګیدړ وروږ ته ویل چی زما په لوری څځلی او اغزن بوټی مه را تولوه . که تاسي د انکل زیموس کاکا داستانونه کوم چي سوی وروږ زیږی اوبیا په اغزن لرونکی جړ وبړ بوټو کی لویږي هیره کړی وی نو په دی بنه سره موډیرقصی به هیره کړی وی .

د واشنګټن د ګواښونو اوداعتراضونو له رسوا شوی اودرز شوی قصو او داستانونو څخه کوم چی اسرایل ته ورکړی اویا ورکوی داسي څرګندیږي چي واشنګټن خپل ځان له هغه څه نه چی دجنګ اودجګړی اور یي پخپله بل کړی اویا ورته پکي وهلی اویا یی وهی بچ کړی یعنی دهغه مسولیت مخکی دمخکی له خپل غاړی څخه لری کړی ،اودا په دی معنی که چیری دجګړی اور بل شي ، روسیه اوچین هم په بی صبری سره په جګړه کی ونډه واخلي یعنی په مستقیم بنی سره مداخله وکړي نوپه هغه وخت واشنګټن وشي کړی چی دملامتیاپیری داسرایل پرغاړه واچوی اواسرایل هم دهغه مخکینی اعتراضونو له مخي چی واشنګټن پری کړی وه ملامتیا قبوله کړي ، نیکولای پاتریشوف د روسیی د ملی امنیت مشر په ظاهری بنی سره دواشنګټن دمانورو اودځنی دستکا ری اود ټولنیز رسنی د تبلیغاتو په سیوری کی تیر وتی دی یعنی هغه داسي ګمان کوی چي دا اسرایل دي چی د واشنګټن پښه دایران سره په جګړه کي راکشوی نو په دی بنیاد هغه ټول

ملامتیا داسرایل پرغاړه اچوی . تاسي دامریکا یا نو ناچاریی له دی مخي څخه هم تصور کولای شي چي هغوی یعنی امریکایي لوړپوړي چارواکي په ډیر بی رحمی اوتعدی سره اسرایل دی ته مجبورووی چی د یو خطر ناکی جګړی د پیل د پاره امریکی ته غاړه کیږدی اوداځکه چي غیر له هغه څخه په انتخاباتی مبارزه کي داسرایل پلو دفعال ونډ و اخیستو د پا ره د څه پلمی ضرورت لیدل کیدل .

واقیعتونه سره بیل او متفاوت دی اوهغه داچي که چیری واشنګټن ونه غواړی اویا یی نه غوښتل چی دایران سره جګړه وشي ، نودهغه څه ضرورت لیدل کیدل چی اسرایل ته نوی اوضروری سلاح اوجنګی مهمات ولیږدوی اویا ددی څه ضرورت وه چی په زرونو شمیرامریکایی سرتیری هغه هیواد یعنی اسرایل ته ولیږی چي دا پخپله دامریکی د جنګی ما شین یو د سیسه او یوچلول دی اوهغه داچي که چیری دجګړی په موده کی دایران دسرتیرو له خوا یرغلګر امریکایی سرتیری ووژل شی نود امریکي دلوړ پوړو چارواکو د پاره دا پلمه تر لاسه شي چي په جنګ کی داخل شي ، ایا امریکا نشو کړلی چی داسرایل د پاره د مزایلو دفاعی سیستم جوړ کړای واي کوم چی د اسرایل سره د ګډ تمرینا تو ضرورت په ډاډه سره د مینځه تللی واي .

یا که واشنګټن و نه غواړی اویا ددی نیت ونه لری چی اسرایل دایران سره جګړه پیل کړی نو په دی صورت کی امریکا کولای شی چی داسرایل حکومت ته بی له کوم تردید او زړه نا زړه مخکی د مخکی داسی ووایی اوهغه داچی که چیری ملګری ملتونه په هغه صورت کی چی اسرایل پر ایران باندی یرغل وکړی او داسرایل د یرغل له مخی چي پرایران باندی کوي پر اسرایل باندی اقتصادی بندیزونه ولګوی اویا پخپل قرار کی اسرایل دیو جنا یتکار جنګي دولت په څیر وګڼی نو امریکا به په هیڅ بڼی سره د ملګرو ملتونودهغه د قرارپه وړاندی به خنډ نشی اویا د ملګرو ملتونه پریکړه به ویتو نه کړي .
اویا داچي اسرایل ته ووایي چی زه نور نشم کولای چی په میلیاردونو ډالر دهغه مالیه ورکونکوامریکایانو پیسي کوم چی هغوی دخپل کورونو پورتګماروا‌و غولونکي شرکتونو ته نشی ورکولای ، داسی یو دولت ته ورکړی چی هغه دبشریت په وړاندی جنایت کوي.
امریکا نه داچي داسي خبری اسرایل ته نه کوي بلکه دهغه شور او شوق په لرلو سره

نه داچي دجګړی د پیل څخه مخنیوی نه کوي بلکه دجګړی پیل ته لمن وهي .

هغه لاځه چی دامریکي لاس پوځی ناتو،لوی بریتانیا ترلاس لاندی اواشغال شوی جرمنی ، پاګل شوي فرانسه ، دمتحده ایالاتو د هواي قوتونو په واسطه سره اشغال شوي ایتالیا ، پاګل شوی هسپانیا او یونان ټولو له یو سره دامریکی د ډالرو د تر لاسه کولو د پاره بی له دی چي د خپل هیواد وقار او سرلوړي وسا تی دغه د ځمکي پرمخ د ژوند تباه کونکي جګړی ته سترګي په لاره دي .

يواځی اويواځی روسيه اوچين کولای شی چې ددغه تباه کونکي جنګ مخه ونيسي .

روسيه وروسته له دی چي ديمتری اوګوزين (demitry Rogozin) دروسيي دنظامی چارومسوليت پرغاړه واخيست خپل لمړی قدم پورته کړ اوهغه داچي نوموړی دبروکسل په يو خبری کنفرانس کی په ځرګند ډول سره داسی وويل :پر ايران باندی هر ډول يرغل هغه مستقيم تهديد دی چي زمونږ امنيت ته ګواښ دی يعنی پرايران باندی يرغل زمونږ پر امنيت باندی يرغل دی .

واشنګټن د روسي ددولت پرمخالفينو باندی له دی نه چي دروسي يو شميرخاينو ګوندونو ته د سی آی ای (CIA) دسازمان له خوا مالی مرستی کيږي داسی محاسبه کړی وه چی دغه ددولت مخالف اجير شوی کړی به د روسيی د مارچ د مياشتي به انتخاباتو کی کوم چی پوتين ممکن بيا انتخابات وګټی ، انتخابات اخلال کړی ، کوځو ته به ووځی او د امريکي فا سد ميديا به داسی تبليغ وکړی چې پوتين په انتخابا تو کی درغلی کړی او په دی ډول سره به دانتخاباتومشروعيت ته به تاوان ورسيږی اوپوتين دخپل خلکوپر وړاندی بی اعتباره کړي نو که چيری روسا نو له سليم عقل ځخه کار اخيستی نه وای اوس به دايران سره به جګړه شروع شوی واي .

دروګوزين اخطار اوځرګندونه د سمد ستی جنګ د پيل مخه تر يوحده پوری ونيول ، اما که چيری چين وغواړی چی دواشنګټن په را بل کړل شوی نزاع کی داخل شي نو واشنګټن به چين ته ځنی د بانکي احتياط اشاری به ورکړي اودهمدی با نکی احتياط کاری په نظرکی نيولو سره به چين سمدلاسه پرته له مشوری په کوم اقدام به لاس پوری نکړی اوهمدغه مشوره او زړه نازړه کيدل به د واشنګټن پلان شوی طرحی ته به خدمت وکړي . يوشی چی دلته د هغه يادونه ضرور ګڼل کيږی هغه دادی چی دواشنګټن ليونی نوی محافظه کاردولت ترهغه چی روسان او چينيان پردی باندی سرخلاص کړی اويا پوه شي چی هغوی هم د نا بودی په لست کی شامل دی د «بريا» يو موقع شته اوهغه په دی معنی ترهغه چی دامريکی اود اروپايی دولتونو پورونه بيرته ورنکړل شی د ځمکی پرمخ د ورکيدو تاريخ به ځوک ونشی کړلی چی ترسره کړی

په درناوی